مصطفی پسرلی

۲۰۱٦/۱۲/۰۳

# غزل

## "کابل" د شاعرانو په شعر کښی

تـرې چاپېـره رقیبان دي نه پوهیږي
واکمنان یې ښاماران دي نه پوهیږي

په تـړلـو سـترګـو نـه رسي منزل ته
په غـلـطه لار روان دي نه پوهیږي

ما وې اوس ګوندې خلاص شوي وي له دامه
لا په دام کې ګیر د ځان دي نه پوهیږي

ټـولـو زړو کې امـیـدونه عمل نشته
تش امید باندې ودان دي نه پوهیږي

د کابله تـر اټک پـه خوب ویده دي
څومره ډیر یې دښمنان دي نه پوهیږی

"پسرلـیـه"! پښتانـه تل شملور دي
خو خپل منځ کې سره وران دي نه پوهیږي



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com